# د ۸ صبح

دپرون روایت | دنن هینداره | دسبا زیری

پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۲۵ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۱مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

امریکې دفاع وزیر لوېد استېن:
«افغانستان کې د امریکایي ځواکونو کمولو په اړه د ترامپ پر پرېکړه، بیا کتنه کېږي!»
تر دې دمخه د جوبایدن حکومت اعلان کړی، چې «امریکې-طالبانو پر هوکړه‌لیک» بیا کتنه کېږي!!





۸ صبح
د پرون روایت | دننن هینداره | د سبا زېری




# سرکرښې

**د وېرې وبا**

وېرې لو ګډ کړی! د وطن هر انسان په وېره کې دی. وېرې په هرچا خپل بې شکله جال را غوړولی، او زړونه او ذهنونه، د وېرې تر تورو لړو لاندې، د بیچاره ګۍ شپې ورځې تېروي!

حاکم په وېره، محکوم په وېره؛ رسمي عسکر په وېره، پټجنګیالي په وېره...

حکومتي مامور په وېره، د جومات امام په وېره،

ساده کلیوال په وېره، دریشیپوش ښاري په وېره...

آیا څوک شته چې ډاډه دې وي؟؟؟

خو هر یو له (بل) وېرېږي؛ هر یوه ته (بل) غل دی!! خو یو هم حال نه وایي!!!

ټول وېرېږي؛ خو یو هم خپل حال نه وایي! هر یو غواړي د بل له حاله خبر شي! غواړي (بل) وپېژني!! لکه هر بل چې (دښمن) وي!!

موږ هر یو غواړو د یو بل له رازونو او هرڅه خبر شو! خو دا ولې؟

ایراني متفکر او فیلسوف «محمد جعفر مصفا» په دې نظر دی: «زما په نظر د نورو د پېژندلو لپاره زموږ علاقه مندي د ډار له کبله ده... موږ له یو بله سخته وېره لرو. موږ ټول د یو بل لپاره د خطر په ډول ځان ښودنه کوو... د تل لپاره هڅه کوو چې د یو بل شخصیت د ټوکې، خاموشۍ، خندا، ځانستایني او بل هر ډول غبرګون په واسطه، تخریب کړو...تل هڅه کوو چې خپل مخاطب او حریف له پښو وغورځوو او د رقابت یوه نااعلان شوې جګړه توده وساتو... او ددې لپاره چې ځانونه او خپله پوچه هستي ډېره راته ګرانه ده، وېره لرو چې څه ضربه ورته ونه رسېږي...»

مصفا، پای کې پوښتي: «زه تر اوسه خپل ځان نه پېژنم او ستا د پېژندلو لپاره مې متې را بډ وهلې دي...عجیبه منطق دی!»

د فلسفي او رواني بحثونو خبره یوه خوا؛ خو دلته د انسان او انسان ترمنځ د اعتماد پل نړېدلی!

دلته پر انسان د انسان باور زیان مونډلی! ښایي هغه تورونه، چې په پوره بېرحمۍ یې پر یوبل لګو؛ وخت یې وي، یوه خوا پرېږدو او پر یو بل د اعتماد فرصت هم یو ځل و آزمویو!

څه باندې لس ورځې کېږي، چې د سولې مذاکراتو دواړه پلاوي، په یوه هېواد، یوه پلازمینه، یوه هوټل کې راټول دي، خو نه دي سره ناست!(هغوی هم لکه چې غواړي، یو بل ښه وپېژني!!)

او دلته د انسانانو جسمونه، عواطف، ذهنونه او روانونه، د وېرې په سیخانو داغل کېږي!!

که «زه» خطر ونه اوسم، که «ته» خطر ونه اوسې، که «هغه» خطر ونه اوسي؛ نو وېره به له څه شي سر را اوچت کړي!؟


په دې هیله، چې ذهن و باور مو، د یوبل (سر، آزادۍ او مال) ته، خطرجوړولو پرځای، د مینې، لورینې، ښېګڼې، ډاډ او باور، یو زرغون پسرلی را میدان ته کړي!

# لیکلړ

● غني: امریکا لـه طالبانو سره هوکړه ارزوي او له افغان دولت سره مشوره کوي ١
● عبدالله: سولې ته د رسېدو لپاره باید تاوتریخوالی پای ته ورسېږي ........ ٢
● د مـلابـرادر پـه مشـرۍ پلاوي ایران ته سفر وکړ ........ ٣
● د پاکستاني بندیانو د خلاصـون غوښتنه ........ ٤
● د باختر خزانې د خـونـدیتوب په اړه د ولسي جرګې اندېښنه ........ ٥
● حکومت پر ولسي جرګې د فشار کـرۍ تـنـګـوي ........ ٦
● د برېښنا نشتوالی؛ کـابل ښـاریان د برېښنا شرکت له کړنو سرټکوي ........ ٨
● لنډۍ ........ ١٠
● مریدنامه ۸ ........ ١١
● د «عقرب تاریک» کتاب لیکـوالې، ثمینې حفیظي سره ځانګړې مرکه ........ ١٢
● ښارونه لا هم کافران دي! ........ ١٣
● د افغانستان زعفران؛ د اقتصادي پرمختګ په لور مهمه هڅه ........ ١٤
● د بهارک خونړۍ پېښه؛ طالبانو څنګه ۴۸ د ننبه ویشتونکو په وسیله ووژل؟ ........ ١٥
● د کندهار – ارزګان لویه لاره او د خلکو ستونزې ........ ١٨
● د کونړ په ولایتي روغتون کې د هیمو دیالیز- ګوردو د درملنې مرکز پرانیستل ١٩
● افغان کرېکټ ملي لوبډلې د اتلولۍ جام خپل کړ ........ ٢٠

د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af



# غني: امـریکا لـه طالـبانو سره هوکړه ارزوي او له افغان دولت سـره مشـوره کـوي

**◆ د ۸صبح پښتو مجله**

ولسمشـر محمـد اشـرف غنـي وایـي چـې د امریکا د نـوي حکومت د کار پـه پیلېدو سره د دواړو هېوادونـو پـه اړیکـو کـې نـوی بـاب پرانیسـتل شـوی دی.

ولسمشـر د مرغومـي پـه شـپږمه د کابینـې پـه غونـډه کـې ووېـل چـې د امریکا د نـوي حکومت د کار پـه دوهمـه ورځ د دغه هېواد د ملي امنیت سلاکار جېک سـالیوان د افغانسـتان د ملي امنیت لـه سلاکار حمدالله محب سـره تلیفوني خبـري وکړې.

د هغـه پـه وینـا، لـه امریـکا سـره د افغانسـتان پـه اړیـکو کـې نـوی بـاب پرانیسـتل شـوی چـې دا اړیکـې بـه دوام وکـړي.

ولسمشـر ووېـل چـې د دواړو هېوادونـو پـه اړیـکو کـې لومـړی ټکی دا دی چـې امریـکا د افغانسـتان اسـلامي جمهوریـت او امنیتـي ځواکونـه خپـل اساسـي شـریکان بولي.

د هغـه پـه خبـره د دواړو هېوادونـو اړیکـې بـه پـه عالـي کچـه د دولتونـو ترمنـځ وي.

ولسمشـر غنـي ووېـل چـې دربېـم ټکـی دا دی چـې د امریکا ملي امنیـت شـورا د امریکا او طالبانـو ترمنـځ هوکـړې پـه اړه چټکه څېړنـه پیلـوي او وروسـته بـه یـې پـه اړه له افغانسـتان سـره مشـوره وشـي چـې دواړه هېوادونـه د خپلـو ګټـو لپاره د لارې نقشـې تـه ورسـېږي.

محمـد اشـرف غنـي ټینـګار وکـړ چـې د امریکا دفاعـي قانـون ددغـه هېـواد لـه کانګـرس څخـه تاییـد شـوی او د افغانسـتان د امنیتـي ځواکونـو د تمویـل او سـمبالولو پـه برخـه کـې کافـي مرسـتې تضمیـن شـوې دي. د هغـه پـه وینـا، د دواړو لوریـو ترمنځ سـتراتیژیک تـړون پـر خپـل ځـای دی. دغـه تـړون پـه ۲۰۱۴ کال کـې د دواړو هېوادونـو ترمنـځ لاسـلیک شـو.

د امریکا د ولسمشـر جـو بایـډن د ملـي امنیـت سـلاکار جېـک سـالیوان، د افغانسـتان د ملي امنیت له سـلاکار سـره پـه تلیفوني اړیکـه کـې د دوحـې د موافقـې د څېړلـو خبـر ورکـړی دی.

لـه بلـې خـوا، د امریکایـي رسـنیو د رپوټ لـه مخـې د افغانسـتان د سـولې پـه چـارو کـې د امریکا د ځانګړي اسـتازي پـه توګه د زلمي خلیلـزاد دنـده د جوبایـډن پـه دولـت کـې هـم دوام لـري چـې پـه یـو ډول هغـې هوکـړې تـه د بایډن اداري ژمنتیا ښـیي چـې د دغه هېـواد د مخکینـي ولسمشـر دانلـډ ټرمپ د ادارې له خوا لاسـلیک شـوې وه.

## عبدالله:

# سولې ته د رسېدو لپاره باید تاوتریخوالی پای ته ورسېږي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله وایي چې د تاوتریخوالي د کمښت په اړه هوکړې ته د طالبانو نه حاضرېدل او د هغې مشروط بلل، د سولې لپاره ددې ډلې د ارادې په هکله د افغانانو لپاره پوښتنې راولاړې کړې دي. د هغه په وینا، سولې ته د رسېدو لپاره باید تاوتریخوالی په بشپړه توگه پای ته ورسېږي.

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس چې په سپېدار ماڼۍ کې یې د دې شورا د ځوانانو کمېسیون د پرانیستلو په مراسمو کې وینا کوله وویل چې د تاوتریخوالي لمن پراخه شوې او په هېواد کې هدفي وژنې روانې دي.

عبدالله وویل چې جگړه هم روانه ده او د تاوتریخوالي د کمښت پر سر د هوکړې لپاره د خلکو د تمو پرخلاف د جگړې لپاره د طالبانو د ټینگار او ددې ډلې له خوا د تاوتریخوالي د کمښت د مشروط کولو له امله دا هوکړه نه ده شوې.

هغه د سولې له مذاکراتو د خلکو تمه د تاوتریخوالي پر کمښت هوکړه وبلله او وې ویل چې سولې ته د رسېدو لپاره باید عملي گامونه پورته شي چې خلک یې پایلې په خپلو سترگو ووینې.

د سولې د عالي شورا رییس زیاته کړه: «کله چې موږ نه حاضرېږو، د تاوتریخوالي کمښت ته ژمنه ولرو، دا په خپله د افغانانو لپاره یوه لویه پوښتنه رامنځته کوي.»

عبدالله عبدالله په هېواد کې د تاوتریخوالي اوسنی کچه د نه منلو وړ وبلله او ټینگار یې وکړ چې نهیلی نه دی او هڅه کوي چې په هېواد کې د تاوتریخوالي د کمښت او سراسري اوربند په اړه هوکړه وشي.

د هغه په وینا، د افغان دولت مرکچي پلاوی د ملي روغې جوړې د عالي شورا په سپارښتنه قطر ته تللی او هڅه کوي چې په رغنده او انعطاف منونکې روحیې سره د سولې لپاره خپله اراده ثابته کړي.

عبدالله وویل چې له طالبان هم دا تمه لري او باید په لومړي پړاو کې، پر سراسري اوربند هوکړه شوې وای چې خلک د خپل راتلونکي او برخلیک په اړه ډاډمن شوي وای او د سولې له بهیره یې ملاتړ کړی وای.

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس ټینگار وکړ چې سولې ته د رسېدو لپاره باید تاوتریخوالی په بشپړه توگه پای ته ورسېږي.

په دوحه کې د مذاکراتو په دوهم پړاو کې چې ټکنی روان دی، په هېواد کې تاوتریخوالی زیات شوی دی. په داسې حال کې چې د دولت مرکچي پلاوي اوربند په دغو مذاکراتو کې لومړیتوب ټاکلی، خو لکه څنگه چې عبدالله عبدالله وویل، طالبانو د تاوتریخوالي د کمښت په اړه هوکړه په شرطونو پورې اړوند بللې ده. ښاغلي عبدالله د تاوتریخوالي د کمولو لپاره د طالبانو د شرطونو په اړه جزیات نه دي ورکړي.

له دې مخکې د دولت د مرکچي پلاوي غړي محمد امین احمدي ویلي و چې طالبان د تاوتریخوالي له کمولو او اوربند له اعلان پرته د خپلو بندیانو د خلاصون په لټه کې دي او له همدې امله مذاکراتو ته لیوالتیا نه لري. افغان دولت د طالب بندیانو د خلاصون غوښتنه رد کړې ده.

# د ملابرادر په مشرۍ پلاوي ایران ته سفر وکړ

◆ د ۸صبح پښتو مجله

په قطر کې د طالبانو ډلې د سیاسي دفتر ویاند ایران ته ددې ډلې د یوه پلاوي د سفر خبر ورکړی دی.

محمد نعیم وردگ په خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې د طالبانو سیاسي مرستیال او د قطر دفتر رییس ملابرادر او ملگري پلاوي یې د سلواغې په اوومه نېټه د ایران حکومت په رسمي بلنه دغه هېواد ته سفر وکړ.

د ښاغلي وردگ په وینا، ملابرادر او ورسره پلاوي یې له ایرانیو چارواکو سره په کتنه د دواړو هېوادونو د اړیکو، په ایران کې د افغان کډوالو د وضعیت، د افغانستان او سیمې د سیاسي او امنیتي حالاتو په اړه خبرې اترې وکړې.

ملاعبدالغني برادر له دې مخکې هم ایران ته سفر کړی دی. که څه هم ایران له طالبانو ډلې په وسله وال او مالي ملاتړ تورن دی، خو ددغه هېواد چارواکي له طالبانو سره یوازې رابطه لرل تاییدوي.

له دې مخکې افغان امنیتي چارواکو ویلي چې د هېواد په لوېدیځ کې له طالبانو ترلاسه شوې وسلې ایرانۍ دي.

په وروستي مورد کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف ویلي چې هېواد یې له طالبانو سره رابطه لري او افغان دولت له دې موضوع خبر دی. ظریف دا رابطه له افغانستان سره د دغه هېواد د سرحدي امنیت لپاره مهمه بللې ده.





# د پاکستاني بنديانو د خلاصـون غوښتنه

◆ م. ظ. صميم

د پاکسـتان د بهرنيـو چـارو وزيـر شـاه محمـود قريشـي د افغانسـتان د بهرنيو چارو لـه وزير محمد حنيف اتمر سـره په تليفونـي خبـرو کـې هيلـه څرګنـده کـړې چـې د دغـه هېـواد بنديان چـې د خلاصـون فرمان يـې د ولسمشـر غني له خـوا صـادر شـوی خوشـي شـي. د پاکسـتان د بهرنيو چـارو وزارت د اعـلان له مخې، دغـه تليفوني خبرې د سـلواغې پـه شـپږمه نېټـه شـوې او دواړو لوريـو همـداراز د دوو هېوادونـو د اړيکـو په اړه خبرې اتـرې کړې دي.

د پاکسـتان د بهرنيـو چـارو وزارت وېلـي چـې شـاه محمود قريشـي په دغـو تليفوني خبرو کـې د پاکسـتاني بنديانو د خلاصـون موضـوع مطـرح کـړې چې د کوچنيـو جرمونو لـه امله په افغانسـتان کـې بنديان دي.

هغـه هيلـه څرګنـده کـړې چـې د ولسمشـرمحمد اشـرف غنـي د فرمـان پربنسـټ دا بنديـان خوشـي او خپلـو کورنيـو ته سـتانه شـي.

محمـد اشـرف غنـي د لـړم پـه ۲۸مـه نېټـه د يـو شـمېر هغـو پاکسـتاني بنديانـو د خلاصـون حکـم صادر کـړی چې په افغانسـتان کـې د محکمـو پـه قطعـي او وروسـتي حکم سـره په سـزا محکوم شـوي دي.

د ولسمشـر پـه فرمـان کـې دديې کار دليـل د ښـه نيـت ښـودل او د پاکسـتان له اسـلامي جمهوريت سـره د دوسـتانه اړيکـو ټينګښـت بلـل شـوی دی. دغـه فرمان څلور مـادې لرلې، په لومـړۍ ماده کې يې راغلي: يو شـمېر پاکسـتاني بنديـان چـې د بنـد موده يې يوه مياشت پاتې وي وبخښـل او خوشـي شـي.

دوهمـه مـاده، د پاکسـتاني بنديانـو نغـدي سـزا چـې دديې فرمـان د لومړۍ مادې شـرايط ولـري او يا يـې د بند موده بشـپړه شـوې وي او د ورکولـو لپـاره پيسـې ونـه لـري، بخښـل شـوې دي. د ولسمشـر پـه دغـه فرمـان کـې د نافذېـدو وخت د لړم دېرشـمه نېټه ياد شـوی و. د ولسمشـر دا فرمان د لړم په ۲۸مه نېټه افغانسـتان ته د پاکسـتان د لومړي وزيـر عمـران خـان لـه سـفره يـوه ورځ مخکـې لاسـليک شـوی دی.لـه بلې خوا، شـاه محمـود قريشـي له حنيـف اتمر سـره پـه تليفونـي اړيکـه کـې د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د سـوداګرۍ د پياوړتيـا لپـاره، د سـرحدي بازارونـو د جوړولـو موضـوع مطـرح کـړې ده. هغـه همـداراز پـه دغـه تليفونـي اړيکـه کـې بيـن الافغانـي مذاکـرات د افغانسـتان لپـاره تاريخـي فرصـت وبالـه چـې سياسـي هوکـړې تـه پـه رسـېدو د افغانسـتان څـو کلن ناوريـن ته د پـای ټکـی کېښـودل شـي. شـاه محمـود قريشـي په افغانسـتان کـې د تاوتريخوالـي د لوړې کچې پـه اړه اندېښـنه څرګنده کـړې او د بين الافغانـي مذاکراتـو پـر ځنډېـدو، د تاوتريخوالـي پـر کمولـو او اوربنـد يې ټينـګار کړی دی.

# د باختر خزانې د خوندیتوب په اړه د ولسي جرګې اندېښنه

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د ولسي جرګې یو شمېر غړو د باختر خزانې د برخلیک په اړه چې د هېواد د ملي پیسو پشتوانه ګڼل کېږي، اندېښنه څرګنده کړې او په امانت توګه یوه معتبر هېواد ته ددغه ګنج د لېږدولو غوښتونکي دي.

د ولسي جرګې رئیس میررحمان رحماني د مرغومي په اتمه نېټه د جرګې په غونډه کې د کابل د هوایي ډګر له لارې د پیسو د قاچاق په اړه، د افغانستان د بیارغونې په چارو کې د امریکا د ځانګړي څارونکي د دفتر رپوټ ته په اشارې سره، ووېل: «که دا ډول پراخ فساد دوام وکړي، ډاډمن اوسئ چې د باختر د سرو زرو خزانه به خوندي پاتې نه شي.»

د ولسي جرګې رئیس وایي چې د سیګار د رپوټ له مخې، نغدې پیسې په ناقانونه توګه د کابل د هوایي ډګر له ځانګړو دروازو، بهر ته لېږدول کېږي او ټینګار کوي چې حکومت د ولسي جرګې او خلکو په وړاندې مسوولیت لري چې ځواب ورکړي؛ دا پیسې څوک بهر ته لېږدوي.

میر رحمان رحماني ټینګار وکړ چې باید زرترزره د باختر د سرو زرو خزانه، د نړۍ یوه معتبر هېواد ته په امانت ډول ولېږل شي، ځکه د افغانستان بانک بې اعتباره دی.

د ولسي جرګې غړې نیلوفر ابراهیمي ووېل چې خلک پر حکومت بې باوره دي او د افغانستان بانک هم خپل اعتبار له لاسه ورکړی؛ له دې امله د باختر د خزانې په اړه اندېښنه لري.

دا اندېښنې په داسې حال کې مطرح کېږي چې د افغانستان د بیارغونې په چارو کې د امریکا د ځانګړي څارونکي دفتر په خپل نوي رپوټ کې ویلي چې تراوسه هم د حامد کرزي له نړیوال هوایي ډګره پیسې او نور منعه شوي توکي قاچاق کېږي. د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح دا رپوټ رد کړی دی.

سیګار د ځانګړو مسافرو په برخه کې ستونزو ته اشاره کړې ده. د ملکي هوایي چلند اداري هم له هېواده د پیسو ایستل، د هېواد د اقتصاد لپاره لوی ګواښ بللی دی. د سیګار په رپوټ کې ویل شوي هغه چارواکي چې د ولسمشرۍ دفتر له خوا ټاکل شوي او نفوذ لرونکي سیاسي وګړي دي، له ځانګړو لارو په آسانۍ پیسې له هېواده بهر



ته لېږدوي. له دې مخکې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار هم ادعا کړې وه چې بې نوم او نښانه الوتکې د کابل په هوایي ډګر کې کښته پورته کېږي او پیسې او سره زر قاچاق کوي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د روان کال په وري میاشت کې اعلان وکړ، د افغانستان شتمني چې په باختر خزانې (ګنج باختر) شهرت لري، د نړۍ په څو هېوادونو کې، له دیارلس کاله نندارې ته ایښودلو وروسته افغانستان ته راوړل شوه. په دغه خزانه کې ۲۱۳ تاریخي آثار دي چې د طلاتپې، فلول غونډۍ، آی خانم، بګرام او زرګرانو غونډۍ څخه ترلاسه شوي دي.

د اطلاعاتو او کلتور د هغه وخت سرپرست وزیري حسیني صافي ویلي و چې په دیارلسو هېوادونو کې نندارې ته د باختر خزانې د ایښودلو له لارې ۳۱۴ میلیونه او ۳۱۹ زره افغانۍ د دولت عوایدو ته ورزیاتې شوي دي.

له بلې خوا، څو میاشتې مخکې رپوټ ورکړل شو چې د افغانستان بانک امنیتي کمرې د څو ساعتونو لپاره بندې شوې. د افغانستان بانک د څلورو ساعتونو لپاره د برېښنا او امنیتي کمرو بندېدل رد کړي و. خو دغه بانک تایید کړې وه چې د بانک لږ شمېر امنیتي کمرې د څو ساعتونو لپاره د تخنکي ستونزو له امله له فعالیته لوېدلې وې. د افغانستان بانک ویلي چې له څېړنو وروسته روښانه شوه چې په دې موده کې ددغه بانک شتمنیو ته زیان نه دی رسېدلی. دا پېښه د ځنګاښ میاشتې په دوهمه مازدیګر مهال شوې وه.

دا موضوع د باختر د سرو زرو د خزانې د برخلیک په اړه، د ولسي جرګې د اندېښنې لامل شوې ده. که څه هم د افغانستان بانک سرپرست اجمل احمدي له ولسي جرګې د باور رایه نه ده اخیستې خو سره له دې خپلې دندې ته دوام ورکوي.

# حکومت پر ولسي جرګې د فشار کړۍ تنګوي



◆ لیکنه: حسیب بهش
◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

ولسي جرګې ته نږدې سرچینې وايي چې حکومت د بودیجې د تصویب لپاره پر جرګې فشارونه زیات کړي دي. د سرچینو په وینا، په حکومت کې چارواکو تصمیم نیولی چې د ولسي جرګې په غړو پورې اړوند وګړي او همداراز هغه کارکوونکي چې له وکیلانو سره اړیکې لري له دولتي دندو ګوښه کړي. همداراز په حکومتي ناستو کې ویل شوي، د هغو انتصابي سناتورانو په هکله چې د جرګې له غړو سره اړیکې لري هم تصمیم ونیول شي. دا په داسې حال کې دي چې د ۱۴۰۰ کال د بودیجې مسودې د تصویب پر سر اختلافاتو د اوارې لپاره د مشرانو جرګې، د ملي امنیت شورا، په پارلماني چارو کې د دولت وزارت او آن د ولسمشرۍ د چارو ادارې منځګړیتوب

بې پایلې و. ټاکل شوې د مالي کال د بودیجې مسوده ډېر زر بیاځلې د کابینې له تایید وروسته ولسي جرګې ته ولېږل شي. خو د ولسي جرګې غړي همداراز پر خپلو سرو کرښو ټینګار لري او باوري دي چې د وړاندیزي اصلاحاتو د نه اعمالولو په صورت کې به بودیجه د تایید رایه ترلاسه نه کړي. دوی د ولسي جرګې د صلاحیتونو د محدودولو او تر کنټرول لاندې راوستو لپاره د حکومت هڅې بې ګټې بولي او وایي چې مقننه قوه به هېڅکله د اجراییه قوې فرمان منونکې نه شي.

د ولسي جرګې له خوا د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې په پرلپسې ردولو سره، د اجراییه او مقننې ترمنځ مخالفت زیات شوی دی. اوس ځینې سرچینې وایي چې حکومت د ولسي جرګې پر غړو د فشار کړی تنګه کړې ده. د دغو سرچینو په خبره، که څه هم د جرګې له غړو سره په رسمي توګه دا موردونه نه دي شریک شوي، خو چارواکو ته سپارښتنه شوې چې د ولسي جرګې د غړو خپلوان له دولتي دندو ګوښه کړي. سربېره پر دې، په ولسي جرګه کې ځینې سرچینې وايي چې په حکومت کې چارواکو پر هغو کارکوونکو چې د ولسي جرګې له غړو سره اړیکې لري فشارونه زیات کړي دي. د ولسي جرګې د یوې سرچینې په وینا، آن ټاکل شوې د هغو انتصابي سناتورانو د برخلیک په هکله چې د ولسي جرګې له غړو سره نږدې اړیکې لري هم تصمیم ونیول شي.

دا په داسې حال کې دي چې په وروستیو ورځو کې، لړترلړه څلورو مراجعو د بودیجې مسودې د تصویب د بندون ماتولو لپاره منځګړیتوب کړی دی. له دې مخکې د مشرانو جرګې رییس عبدالهادي مسلم یار د ولسي جرګې له رییس میررحمان رحماني سره په کتنه کې دداوړو قوو ترمنځ د مخالفت پر پای ته رسېدو ټینګار کړی و. که څه هم د ولسي جرګې رییس ویلي و چې له حکومت سره د مقابلې نیت نه لري، خو د هغه په وینا، له خپلو صلاحیتونو کار اخلي او اجازه نه ورکوي چې مسایل د شخصي سلیقو پر بنسټ د ملي شورا له تصویب پرته اجرا شي. سربېره پر دې د سرچینو په وینا، د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب، په پارلماني چارو کې د دولت وزیر ګل پاچا مجیدي او د ولسمشرۍ د چارو اداري رییس فضل محمود فضلي په فردي توګه د ولسي جرګې له غړو سره کتلي او د وروستي بندون د ماتولو په اړه یې خبرې کړې دي. له بلې خوا، ولسي جرګې ته نږدې سرچینې وایي چې دغو بحثونو کومه پایله نه ده لرلې. له دې مخکې د ولسمشر غني لوړپوړي سلاکار وحید عمر ویلي و چې د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې د تصویب په اړه له ولسي جرګې سره خبرې روانې دي.

که څه هم د ولسي جرګې غړي ددغو مسایلو په اړه څه نه وایي خو د بودیجې په مسوده کې د وړاندیزي اصلاحاتو پر شاملولو ټینګار لري. د ولسي جرګې دوهم منشي حجت الله خردمند د مرغومي په پنځمه نېټه ۸صبح ته وویل چې پر نورو اصلاحاتو سربېره اړتیا ده چې د معاشونو د یو شان کولو طرحه برابره شي. هغه زیاته کړه چې په یوه اداره کې د یوې کچې دوو کارکوونکو ته دوه ډوله معاش ورکول عادلانه نه دي او اړتیا ده چې ددې موضوع لپاره حل لاره ولټول شي. ښاغلي خردمند زیاته کړه چې حکومت د جرګې مصوبو ته پام نه کوي او آن د کوډونو په هکله په بودیجه کې مالومات نه ورکوي. هغه جوته کړه چې ښایي حکومت د احتیاطي او پالیسۍ له کوډونو په مناسبه او ښه توګه استفاده کړې وي، خو باید د اولس استازو ته حساب ورکړل شي چې خلک پوه شي دا پیسې چېرته تللي دي.

د ښاغلي خردمند په وینا، د بودیجې د سند په بحث کې د ولسي جرګې د غړو شخصي مسایل مطرح نه دي او د خلکو استازي د مقننه قوې د وضعیت په اړه اندېښمن دي. له دې مخکې داسې خبرونه خپاره شوي وو چې ګواکې میررحمان رحماني او د جرګې یو شمېر نور غړي د دوی د وړاندیزي پروژو د لیرې کولو له امله د بودیجې د مسودې پر ردولو ټینګار لري. د ولسي جرګې د دوهم منشي په خبره، په اوسني وخت کې د اجراییه او مقننه قوې ترمنځ د مقابلې بحث مطرح نه دی، بلکې جرګه د څارونکې په توګه عمل کوي او دا یې د صلاحیتونو یوه برخه ده. حجت الله خردمند جوته کړه چې د اساسي قانون له مخې، د اداري بنسټونو جوړول، ادغام او تعدیل د ولسي جرګې صلاحیت دی، خو حکومت دې موضوع ته پام نه کوي. که څه هم هڅه وشوه چې په دې اړه د ولسمشرۍ دفتر نظر هم واخیستل شي، خو مسوولینو تر وروستیو شېبو ځواب رانه کړ.

د بودیجې لومړۍ مسوده د روان کال د مرغومي په لسمه د رایو په اکثریت سره د ولسي جرګې له خوا رد شوه. د ولسي جرګې غړو د بودیجې د لومړۍ مسودې له ردولو وروسته جوته کړه چې په بودیجه کې ۱۷ سرغړونې شته او باید اصلاح شي. جرګې هغه وخت د نوي مالي کال بودیجه ناعادلانه او نه متوازنه وبلله او د یو شمېر پرمختیایي پروژو او د دولتي کارکوونکو د معاشونو د طرحې ورزیاتولو غوښتنه یې وکړه. که څه هم په دوهمه مسوده کې د ۱۴۰۰ مالي کال په بودیجه کې کابو ۲۰ میلیارده افغانۍ زیاتې شوې، خو د ولسي جرګې غړو دا مسوده هم د مرغومي په ۲۷مه نېټه رد کړه. د ولسي جرګې غړو په عمومي غونډه کې وویل چې د اوولسو موردونو سرغړونو پر نه اصلاح سربېره په بودیجه کې د سرغړونې دوه نور موارد هم ورزیات شوي دي.

د وېلو ده چې د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې په دوهمه مسوده کې ټوله بودیجه ۴۷۳ میلیارده افغانۍ ده چې ۳۱۱ میلیارده او ۱۹۹ میلیونه یې عادي او ۱۶۱ میلیارده او ۸۴۲ میلیونه یې پراختیایي بودیجه ده.

د برېښنا نشتوالی؛

# کابل ښاریان د برېښنا شرکت له کړنو سرټکوي




◆ لیکنه: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

یو شمېر کابل ښاریان ادعا لري چې برېښنا شرکت له پرلپسې پرچاویو سره سره د اصولو خلاف له هغوی پیسې اخلي. دوی وایي چې ددغه شرکت کارکوونکي د برېښنا د لګښت میترونه په سمه توګه نه ارزوي او د لګښت پیسې په خپل زړه په بلونو کې لیکي. د ښاریانو په وینا، که څه هم د برېښنا په مصرف کې یې کوم بدلون نه دی راغلی، خو په دوو پرلپسې پراوونو کې د برېښنا د لګښت په بلونو کې د پام وړ توپیر لیدل کېږي.

یو شمېر ښاریانو د برېښنا د لګښت بلونه د ۸صبح په واک کې ورکړي دي. په یوه مورد کې د یوې کورنۍ د برېښنا د یوې دورې د لګښت بل د تېرې دورې کابو ۴۰ برابره دی. سربېره پر دې، یو شمېر نور کابل ښاریان د برېښنا له پرچاوۍ او نشتوالي شکایت لري، د هغوی په وینا دوی په ژمي کې منظمه برېښنا نه لرله چې جدي ستونزې یې ورته رامنځته کړې دي. خو برېښنا شرکت د خلکو ادعاوې ردوي او وایي چې هېڅکله د مشتریانو حسابونو ته اضافي پیسې نه لیکل کېږي. د مسوولینو په وینا، که هېوادوال د برېښنا د لګښت په پیسو قناعت نه لري، د نه

قناعت فورمه ډکه کړي چې مشکلات یې وارزول شي.

که څه هم د برېښنا شرکت له خوا په بلونو کې د اضافه پیسو لیکل نوې خبره نه ده، خو یو شمېر هېوادوال د برېښنا شرکت پر دغه کار په نیوکې سره وايي چې دوی له اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي او ددغو پیسو د ورکولو وس نه لري. د کابل ښار د تایمنۍ اوسېدونکی عتیق الله چې په یوه لوړپوړېزه ودانۍ کې اوسېږي وايي: په دغه ودانۍ کې څوارلس کورنۍ ژوند کوي چې هره یوه ځانګړی میتر لري. د هغه په وینا، له دې امله چې ددغې ودانۍ لپاره د اوبو یوه زېرمه موجوده ده او د برېښنا د لګښت یو ځانګړی میتر هم ورته لګول شوی خو ددغه میتر مصرف د کال په ټولو میاشتو کې یو شان دی او پیسې یې تل توپیر لري. خو هغه زیاته کړه چې ددغه میتر د برېښنا د لګښت پیسو په تېرو دوو دورو کې د پام وړ توپیر درلود.

د هغو بلونو له مخې چې د ۸صبح په واک کې یې ورکړي، د روان کال په تلې او لړم میاشتو کې د برېښنا لګښت کابو ۲۹۸ کیلوواټه ثبت شوی، خو دا کچه د لیندۍ او مرغومي په میاشتو کې څلور زره او ۱۳۴ کیلوواټو ته رسېدلې ده. په همدې توګه د لړم او لیندۍ میاشتو د برېښنا د لګښت پیسې ۸۹۲ افغانۍ دي، په داسې حال کې چې د لیندۍ او مرغومي میاشتو د لګښت پیسې ۳۵ زره او ۸۶۵ افغانیو ته رسېدلې دي. دا شمېر پیسې د کابل ښاریانو لپاره د منلو وړ نه دي؛ ځکه د هغه په باور، د مصرف شوې برېښنا کچه یو شان ده او یوازې د برېښنا په بل کې د پیسو کچه توپیر لري. عتیق الله عتیق ووېل: **«په اوړي کې هوا ګرمه ده او ډېرې اوبه مصرفېږي، خو د یخنۍ په موسم کې سره له دې چې کمې اوبه ټانکۍ ته پورته کوو، پیسې یې زیاتې راغلې. موږ یوازې ذخیرې ته اوبه پورته کوو او یو څراغ روښانه دی، تل یو شان استفاده کېږي، ښايي دا کچه لږ کمه او زیاته شي خو څه ډول کېدای شي چې ۴۰ سلنه زیاتوالی پکې راشي.»**

هغه زیاته کړه چې ددې ستونزې د اوارې لپاره یې برېښنا شرکت ته مراجعه کړې، خو ددغه شرکت مسوولینو د نوموړي غوښتنو ته هېڅ پام نه دی کړی. د عتیق الله په وینا، د برېښنا شرکت مسوولینو اړوندې برخې ته سپارښتنه کړې چې ددې موضوع د څېړلو لپاره فورمه ډکه کړي چې یو پلاوی وټاکل شي، خو مسووله برخه د فورم ورکولو ته نه ده حاضره شوې. هغه ووېل: «اړوندې برخې فورم ورنه کړ او وې وېل چې ولې مو پیسې بانګ ته ورکړې، لنډه دا چې د قناعت وړ ځواب یې رانه کړ.»

نورحبیب د کابل ښار یو بل اوسېدونکی دی، هغه هم د برېښنا شرکت له کړنو سرټکوي او وايي چې ددغه شرکت کارکوونکي له لګښته زیاتې پیسې د هغه په حساب کې لیکلې دي. د نوموړي په وینا، په تېرو دوو دورو کې یې د برېښنا د لګښت پیسې یو ځل درې سوه او دوهم ځل اتلس زره او ۵۰۰ افغانۍ لیکل شوې دي. نور حبیب دا پیسې د منلو وړ نه بولي او وايي: **«له دې سره سره چې په وروستیو میاشتو کې مو یو شان برېښنا مصرف کړې، د بېلګې په توګه مو بایلر، تلویزیون، څراغونه او یخچال کارولي او کوم اضافه مصرف مو نه دی کړی، خو د لګښت پیسې یې دوه ځله له یو بل سره ډېر توپیر لري. په لومړۍ دوره کې ۳۰۰ افغانۍ وې، خو په بله دوره کې شل زره افغانۍ زما په حساب کې لیکل شوې دي. دا شمېر پیسې د منلو وړ نه دي.»** هغه ادعا وکړه چې برېښنا شرکت اضافه پیسې خلکو ته لیکي او ددغه شرکت کارکوونکي پرته له دې چې میتر وګوري د خلکو په حساب کې په خپل زړه پیسې لیکي.

له بلې خوا یو شمېر نور هېوادوال په کابل ښار کې د برېښنا پر نشتوالي او پرچاوۍ نیوکه کوي او وايي چې دا بهیر د دوی لپاره د اقتصادي زیانونو لامل شوی دی. د آش جوړولو شرکت خاوند رحیم الله وايي چې څلور کارکوونکي لري، خو د ژمي په موسم کې د منظمې برېښنا د نشتوالي له امله یې کارونه ټپه ولاړ دي او د مشتریانو اړتیاوې نشي پوره کولی. هغه ووېل: «څلور کار کوونکي لرم او مجبور یم چې هره میاشت یې معاش ورکړم، له بلې خوا، په ژمي کې منظمه برېښنا نه لرو یوازې د شپې له خوا منظمه برېښنا لرو چې کارکوونکي مې کار نه کوي، د ورځې برېښنا نشته او د مشتریانو تقاضا نه پوره کېږي. همدا اوس مې ډېر مشتریان له لاسه ورکړي، د برېښنا نشتوالي ډېرې ستونزې راته جوړې کړې دي، د دستګاه او کارکوونکو لګښتونه نشم پوره کولی.»

دا په داسې حال کې دي چې **په وروستیو میاشتو کې د کابل برېښنا منظمه نه ده، دا بې نظمي کله په ازبکستان کې د تخنیکي ستونزو له امله وي. افغانستان له ازبکستانه کابو ۴۰۰ کیلوواټه برېښنا پېرلې چې په نشتوالي کې یې د برېښنا له کمښت سره مخامخ کېږي، که څه هم له کورنیو سرچینو هم برېښنا برابرېږي، خو کورني تولیدات د هېوادوالو لپاره بسنه نه کوي.**

اخوا، برېښنا شرکت بیا له خلکو د زیاتو پیسو اخیستل ردوي او وايي چې ددغه شرکت مسوولین د برېښنا د لګښت په اړه ځواب وايي. د نوموړي شرکت وياند وحید الله توحیدي ۸صبح ته ووېل چې برېښنا شرکت هېڅ وخت د خپلو مشتریانو په حساب کې اضافي پیسې نه لیکي. د هغه په وینا، کله چې هېوادوال د خپل برېښنا د لګښت په اړه قناعت ونه لري، د نه قناعت فورم ډکولی شي چې د برېښنا شرکت کارکوونکي په سیمه کې حاضر او ستونزې یې له نږدې وڅېړي. توحیدي زیاته کړه، په هغه صورت کې چې کومه تخنیکي ستونزه رامنځته او اضافه پیسې اخیستل شوې وي، دا شرکت یې بېرته ورکوي.

هېوادوالو له دې مخکې په ځلونو د برېښنا له نشتوالي او د برېښنا د زیاتو پیسو له اخیستو شکایت کړی دی. یو ځل ولسي جرګې هم برېښنا شرکت تورن کړی و چې د قانون پرخلاف له خلکو اضافه پیسې اخلي. جرګې همداراز وړاندیز کړی و چې له فساده د مخنیوي لپاره، د برېښنا بلونه په میاشتني ډول هېوادوالو ته ولېږي، خو دا غوښتنه تراوسه نه ده عملي شوې. د وېلو ده چې په دې وروستیو کې د کابل ښار برېښنا تر ډېره د تخنیکي ستونزو له امله بنده شوې ده.

۱۰
۸صبح پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۲۵ مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۱مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

## لنډۍ

په خولې توبې توبې وباسم
په تا مین زړګی توبې نه قبلوینه

په خوله دې غږ راته ونه کړ
په تېغ د سترګو دې زخمي کړمه مئینه

په ژوند کې خړ مه شې افغانه
پړ دې غلیم شه چې ټیټ سترګی ژوند کوینه

په سور سالو کې ګناه نه شته
ګناه نجلۍ کې ده چې رنګه بنګه ځینه

په کوڅه تېر شوم ګناهکار شوم
شړنګار یې خېژي زولنې راته راوړینه

په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما وېل دا سپینو اوبو اور واخیست مینه

په ژړا هغه خلک ژاړي
چې د محفل یاران یې تورې خاورې شینه

په مرګ به دواړه سره مړه شو
ارمان مې دا دی چې به وړاندې وروسته شونه

په مرګ به مړ راپسې نشې
دا لباسې اوښکې د هر چا په مخ ځینه

په ما دې ځان د انځر ګل کړ
بوی دې راځي ګل دې په سترګو نه وینمه

په مخ دې خاڅکي د باران دي
ما خو ګومان د ملغلرو پرې کونه

په مرګ خپه نه یم دلبره
راکړه یو ځل د تورو سترکو دیدنونه

## کاشکې جنګونه نه وی

کاشکې وطن کې مو جنګونه نه وی
ټوپک، راکټ، شوبلې بمونه نه وی

ستونزې یوازې په جـرګو حل کېدی
هـر خــوا د ویــنو بهیرونـــه نه وی

هرڅوک بسیا وی په خپل کور کلي کې
د پــردېسی ژونـــد کـــړاونــه نه وی

د سولې لمر وی د وطن په غرونو
د جنګ لوخړې او اورونـــه نه وی

یو د بل مرستې ته میدان ته دانګل
جوړه وروري وی خو دامونه نه وی

هر یو چارواکی خدمتګار وی هلته
رشـــوت فســاد جنایتونــه نه وی

قانون په هر سـړي یو شان چلېدی
د توراو سپین تر منځ واټونه نه وی

په کروندو کی مو ګـلان کـرلی
د نشـــه یي تــوکــو کښتونه نه وی

ټول ځان د یو وطن بچیان بللی
د قوم ملیت په نوم نومونه نه وی

د وطـــن هر بچي تعلیم کړی وی
د زده کړې مخې ته خنډونه نه وی

هره خوا ښادي وی د وطن په کلیو
کونډې یتیم په کور غمونه نه وی

د هر یو خوله وی له خندا نه ډکه
مینه، دوستي وی خو چمونه نه وی

د خالد ژوند به له خوښیو ډک وی
چې په وطن کې مو جنګونه نه وی

حفیظ الله خالد

# مریدنامه ۸

**◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال**

مرید پـوه شـو، چې دا خیښـي ډېـره مرګوني ده، لـه پیر څخـه یې هیله وکړه، چې پـه بېړه لـه دې کلي څخـه ووځي.

... خو شاته لا هم له یوه درمند څخه لوګي پورته کېدل.

غرمه وه، چې د ښـار دروازه یې ورته پرانیسـته، عجیبه وه، ښـار دیوالونه نـه درلـودل، خـو دروازه به یې تر غرمـې تړلې وه.

چـې ورننوتـل، څـه ګوري ؟ د دروازې پـه دالان کـې دوه پاسـوالان ولاړ دي، تـوري یـې لـه تېکـو راایسـتلې او پـه وینـو ککـړې، ورانـدې ولاړل، چـې د ښـار پـه لومـړۍ څلورلارې کـې یـې لـوړ کلـه منـار ولیده، مرید وحشـت ونیـوه، هاخـوا لویـه ډلـه خلـک په یـوې جنـازې پسـې روان وو، مرید یـو ښـاري وپوښـت : څـوک مـړ دی؟ ښـاري پـه پوزخنـد وویـل : د ښـار ( قصـاب) !

پـه کوشـنۍ ویالـه کـې لـه اوبـو سره ګـډې وینـې بهېـدې، هاخـوا پـه یـوه لـوی واټ کـې ګڼـې ښـځې روانـې وې، سـرونه یـې لـوڅ او بـربنډ وو، لـه خپلـو تیکریـو څخـه یـې جنـډې او بیرغونـه جـوړ کـړي وو، پـر جنډو لیکلـي وو:

( مـوږ د ښځو حقونه غواړو !)

ښځو د حقونو چیغې وهلې او خنبمبدلې ښکاریدې ...

مرید ببرسري ته مخ وروګرځاوه :

دوی څه وایي ؟

ببرسـري پیـر لـه خنـدا پـه ملا مـات شـو، لـه ډېـرې خنـدا څخـه یـې د سـتما پـه منـځ کـې ځـواب ورکـړ:

دوی لـه هغـو نارینـه وو څخـه ، چې یو په بل پسـې تـوري ګرځوي، خپل حقونه غواړي.

دا ښځې په هغه ښار کې، چې ( ژوند ) نه شته، ( حق) غواړي !

پـوه شـه ! چـې ( حـق ) د ژوندیـو خلـکو غوښـتنه وي، پـر مـرګ محکـوم ولسـونه (حـق) نه شـي غوښـتلای!

مرید ښـاریانو تـه ځیروو، چې ټـول دوه برخې شـوي وو؛ نارینه د قصاب په جنازې پسـې راون وو او ښـځینه وو د خپلو  حقونو د غوښـتلو چیغې وهلې.

پـه ښـار کې کتـار خلک د حاکم د مانـۍ دروازې تـه ولاړوو، مرید له یوه ښـاري څخه وپوښـتل : داخلک دلته څه کوي؟ ښـاري ځواب ورکړ:

دښـار حاکـم سـخي سـړی دی، دوی تـه هره ورځ پـه خیرات کـې خواړه ورکوي.

مرید ببرسري پیر ته مخ وروګرځاوه : افرین دې پر داسې حاکم وي!

خو ببرسري د ( نه !) سر وښوراوه :

د حاکمانـو دنـده دا نـه ده، چـې خپلـو خلکـو تـه خیـرات ورکړي، د ښـه حاکـم مسـئولیت دا دی، چـې خلـک لـه خیـرات اخیسـتلو څخـه بـې نیـازه کـړي. کـه خلـک پـه خپلـه د ډوډۍ موندلـو امکانـات ولـري، لـه هیڅچا بـه سـوال ونه کړي. ښـه حاکمـان هغـه دي، چې د پرګنو پرشـاړو زمکـو اوبـه ورسـمې کـړي، او خلـک د دې وړتیـا ومومـي، چـې د ډوډۍ غوښـتونکیو پرځـای ډوډۍ ورکوونکـي اوسـي.

... او مرید نن یوه بله ( ریښتیا) زده کړې وه !




# ځان مه محدودوئ تر عنوان لاندې کتاب د چاپ په ګاڼه سینګار شو

**◆ راپور: محمد عزیز پردېس**

«ځـان مـه محدودوئ» کتـاب چـې انګرېـزي نـوم یـې «No Limits» دی، د مشـهور امریکایـي روزونکـي، ویناوال او د مشـرتابه برخـې متخصـص جـان سـي مکسـوېل اثـر دی تـازه پښـتو ژبـې تـه ژبـاړل شـوی دی. دغـه کتـاب د ځـوان او تکـړه ژبـاړن جـواد تیمـوري لـه خـوا پښـتو تـه ژبـاړل شـوی او پـه کابـل کـې چـاپ او بـازار تـه وړانـدې شـو.

دغـه کتـاب ۳۲۶ مخونـه لـري او پـه ۲۰ څپرکـو کـې راټـول شـوی دی. د نومـوړي کتـاب ژبـاړن، ښـاغلی جـواد تیمـوري وایـي: «دا کتـاب پـر محصلینـو او کاروباریانـو سربېره، د ټولنـې لـه هـر وګـړي سـره مرسـته کولـی شـي چـې خپلـې پټـې وړتیـاوې وپېژنـي او پـه مرسـته یـې ټولـې هغـه پولـې او خنډونـه لـه منځـه یوسـي، چـې د دوی ژونـد او کاري چاپېریـال یـې محـدود کـړی دی».

# د «عقرب تاریک» کتاب لیکوالې، ثمینې حفیظي سره ځانګړې مرکه






◆ **مرکه کوونکی: محمد عزیز پردېس**

درنو لوستونکو د ۸صبح پښتو مجلې د ادبي ورشو برخې د ځانګړو مرکو د لړۍ په دوام مو دا ځل د (عقرب تاریک) تر عنوان لاندې د چاپ شوي کتاب له لیکوالې آغلې ثمینې حفیظي سره ځانګړې مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

**یادونه:** په عقرب تاریک کتاب کې پر کابل پوهنتون د سرني خونړي برید او په دې پېښه کې د قربانیانو د کورنیو خاطرې راغونډې شوي دي چې د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو ځانګې زده کړیالې اغلې ثمینې حفیظي په هڅو لیکل شوی دی.

**۸صبح:** آغلې حفیظي، مننه کوم چې موږ ته مو د «عقرب تاریک» کتاب په اړه چې په دې وروستیو کې چاپ شو، مرکې ته وخت راکړ. د لومړۍ پوښتنې په توګه کېدای شي درنو لوستونکو ته ځان معرفي کړئ؟

**حفیظي:** ټولو درنو لوستونکو ته سلام او درناوی وړاندې کوم!

ثمینه حفیظي یم په کال ۱۳۷۷ کې مې په کابل کې نړۍ ته سترګې وغړولې، خو اصلي ځای مې میدان وردګ ولایت دی او ۲۲ کلنه یم. په کال ۱۳۵۹ کې د سیدال ناصري د نجونو له لیسې په لوړه درجه فارغه شوم، وروسته مې په کابل پوهنتون کې د ټولنیزو علومو په برخه کې د لرغون پېژندنې په برخه کې زده کړې پیل کړې، دمګړۍ په اووم سمستر کې یم او ترځنګ یې لیکوالي هم کوم.

**۸صبح:** مننه، آغلې حفیظي، ددغه کتاب د لیکلو لامل څه و، آیا مخکې له دې مو کتابونه لیکلي او خپاره کړي مو دي؟

**حفیظي:** د دغه کتاب د لیکلو لامل، د تاریخ په اوږدو کې د ټولو قربانیانو د دردونو انځورول ؤ چې راتلونکي نسلونه په دې پوه شي، د علم او پوهې دښمنانو له لوري پر هغو وګړو څه ظلمونه شوي چې په زده کړو او پوهې بوخت ؤ. له دغې پېښې وروسته ژوند د تېر په څېر نه ؤ او له ورځني ژوند سره وېره او درد یوځای شوی ؤ، دغه ګام مې د دې لپاره پورته کړ چې وکولی شم دغه دردونه لږ راکم کړم. مخکې له دې مې هم ادبي طرحې او مقالې لیکلې دي، خو دا مې لومړنی اثر دی د چاپېږي.

**۸صبح:** د عقرب تاریک کتاب تود هرکلی وشو، ستاسې په اند یې لامل څه دی؟

**حفیظي:** له بده مرغه چې د کابل پوهنتون پېښه یوه دردوونکې او خونړۍ پېښه وه چې د ټولو په ذهن کې پاتې ده او د هېرېدو نه ده. په خواشینی سره چې په افغانستان کې د یوې دردوونکې پېښې په رامنځته کېدو، مخکینۍ پېښې هېرېږي او په تېرو څو میاشتو کې د بېلابېلو او دردوونکو پېښو شاهدان وو، نو د کابل پوهنتون پېښه هم په یو ډول هېره شوې وه، د دغه کتاب لیکلو دقیقا د درې میاشتې مخکې خونړۍ پېښې درد یو ځل بیا تازه کړ او دا چې د نبي کریم (ص) د لارې تعقیبوونکې د جهل او تورتم د دښمنانو لخوا ووژل شول.

**۸صبح:** آیا فکر کوئ چې د ورته کتابونو لیکل به د کابل پوهنتون په شان خونړیو پېښو د قربانیانو د کورنیو پر درد پټۍ کېږدي؟

**حفیظي:** کاشکې د دې کتاب له لیکلو پورته مې څه په وس کې وی، چې د قربانیانو د کورنیو د دردونو لپاره درمل وی. خو د کتاب لیکل هم په یو ډول د دوی پر ټپونو پټۍ کېدای شي، د دوی لپاره دا موضوع څرګنده شوه چې لېترلږه یو

ځـوک شـته چـې د دوی پـه خبـر درد لـري، د دوی د اولادونـو د وينـو دفـاع کوونکـي دي او غـږ يـې پـه تاريخ کـې ثبت کـړ.

**۸صبـح:** د دغـه کتـاب پـه چمتـو کولـو کـې کومـو کسـانو لـه تاسـو سـره مرسـته کـړې او آيا داسـې ځـوک هـم ؤ چـې د کتاب پـه ليکلـو او چمتـو کولـو کـې يـې درسـره مخالفـت کـړی وي؟

**حفيظـي:** لـه بـده مرغـه د دې کتـاب پـه برابرولـو کـې هېچـا مرسـته نـه ده کـړې او پـه يـوازې ځـان مـې هرڅـه مخ تـه يـوړل. همدا چـې چا راسره همکاري نـه لرلـه، او نـه يـې غوښـتل چـې داسـې کتـاب چـاپ شـي. د دې کتـاب کمپوز د احمـد شـعيب صديقـي لخوا شـوی او د فـاروق مطبعـې لـه خـوا چـاپ شـو.

**۸صبـح:** پـه عقرب تاريـک کتـاب کـې مـو د خپلو ۱۸ ټولګيوالـو او د کابـل پوهنتـون خونـړۍ پېښـې او د قربانيانـو خاطـرې ليکلـې دي، د دې کتـاب د ليکلـو پرمهـال کومـه خاطـره وه چـې ليـکل يـې تاسـې تـه ترټولـو سـتونزمن ؤ او ولـې؟

**حفيظـي:** د دې کتـاب د هـر داسـتان، د هـر پراګـراف پـه اوربـدو او ليکلـو سـره احسـاس کـوم چـې کلونـه عمـر رابانـدې تېـر شـوي او زړه شـوې يـم، ځکـه دا دومـره دردوونکـې ؤ چـې کانـې اوبـه کـوي. لـه دې مـواردو اقتصـادي سـتونزې او بـې وزلـي زما لپاره ډېـر دردوونکـي و او پـه داسـې بـې وزلـه ژونـد کـې چـې بيـا د کورنـۍ عايـد لرونکـی شـخص هـم لـه لاسـه ورکـړې، دا نـو بيـا ترټولـو ډېـر درد لـري. هـره کورنـۍ چـې خپـل ځـوان، خوارېکښ او د کورنـۍ د اړتيـاوو برابرونکـی لـه لاسـه ورکـړي، دا بيـا جـلا درد دی. ادريس چـې غوښـتل ولسمشـر شـي، رووف چـې هيلـه يـې لرلـه د پوهنتـون اسـتاد شـي. حسـيني چـې غوښـتل يـې د پارلمـان وکيلـه شـي او نديمـې چـې ليوالـه وه د ټولـو دولتـي ادارو لپاره نـوې پاليسـي او لايحـه جـوړه کـړي، خـو د دوی ټـول ارمانونـه او هيلـې تـر خـاورو لانـدې شـول. دغـه ټـول مـوارد درد او رنـځ بيانـوي.

**۸صبـح:** آغلـې حفيظـي، د عقـرب تاريـک کتـاب اوس پـه فارسـي ژبـه ليـکل شـوی دی، آيا پـه راتلونکـې کـې هـوډ لـرئ چـې پـه نـورو ژبـو هـم وژبـاړل شـي؟

**حفيظـي:** يـاد کتـاب بـه ان شـاءالله پـه راتلونکـې اونـۍ کـې پـه پښـتو ژبـه هـم وژبـاړل شـي او دا چـې پـه دغـه پېښـه کـې ډېرو بهرنيـو هېوادونـو د خپلـې همـدردۍ مراتـب وړانـدې کـړل او غبرګونونـه يـې وښـودل نـو لېوالـه يـم چـې پـه انګليسـي ژبـه هـم وژبـاړل شـي چـې نړيـوال هـم د دې خونـړۍ پېښـې دردونـه او خاطـرې ولولـي و حـس يـې کـړي.

**۸صبـح:** د وروسـتي پوښـتنې پـه توګـه، د عقـرب تاريـک کتـاب لـه لوسـتونکو مـو غوښـتنه، پيغـام او وړانديـز مـو څـه دی؟

**حفيظـي:** دا چـې د کابـل پـه ټولـو کوڅـو او واټونـو کـې د شـهيدانو او قربانيانـو د کورنيـو ليدلـو تـه ورغلـې يـم، نـو د هـر چـا پـه پرتلـه د دوی وضعيـت ښـه درک کـوم، لـه بـده مرغـه د دوی ډېـرې کورنـۍ پـه بـې وزلـۍ کـې ژونـد کـوي، همدارنګـه پـه پېښـه کـې ټپـي شـوي کسـان هـم پـه ښـه وضعيـت کـې نـه دي او لاسـنيوي تـه اړ دي. نـو پـه همـدې اسـاس مـې پرېکـړه وکـړه چـې د عقـرب تاريـک کتـاب لـه لارې راغلـې پيسـې بـه د دې پېښـې د قربانيانـو لـه کورنيـو سـره مرسـته وکـړم، نـو لـه تاسـو ټولـو عزيزانـو هيلـه لـرم چـې د يـو ټـوک کتـاب پـه پېرلـو سـره د دغـې دردوونکـې پېښـې لـه ټپيانـو او د شـهيدانو لـه کورنيـو سـره خپلـه مرسـته وکـړئ.

# ښارونه لا هم کافران دي!

◆ عبدالغفور ليوال

لسـيزې پخـوا، چـې نړيوالـه سـره جګـړه پـه افغانسـتان کـې تودېـده، نـو لويديـزو تيوريسـنانو د سـيمې اسـتخباراتو تـه لاندينـۍ نسـخه وروپېژندلـه:

- لـوی ښـارونه پرېـږدئ، د منـدې لـه مخـې لوسـتي ښـاريان لـه تاسـو سـره پـر لار نـه ځـي؛
- پام کليو ته وکړئ؛
- کليوال ساده، سپيځلي او بېخبره خلک دي؛
- له ښارونو سره د کليو اړيکي پرې کړئ؛
- د کليو ښـوونځي وروسـيزئ او د حکومت کمزورې سـيمه ييزې اداري پـه کې رنګـې کړئ؛
- په کليو کې دوديزې مشرۍ ژر خپلولای شئ؛
- خانـان، ملـکان، روحانيـون، ميـراو، د ژرنـدو خاونـدان بـه ستاسـو اسـتازي وي؛
- ښارونه کافر کړئ او د کليوالو عُقدې يې پرضد وپرسوئ؛
- حکومت ځان په ښار کې کلابندوي او تاسو کلي کلابند کړئ؛
- د کلي محصولات ښارونو ته او ښاري توکي کليو ته مه در پرېږدئ!

پايلـه داده، چـې ډېـری کليـوال بـه ستاسـو وړيا سـرتيري شـي او د دوی پـه مټ پر ښـارونو د کليوالـو جنګياليو فشـار زياتولای شـئ...

دا کيسـه نـږدې نيمـه پېړۍ پخـوا طرحـه شـوې وه او پايلـه يـې سـيمه ييـزو اسـتخباراتو تـه پـه زړه پـورې وه.

دا کيسه لا هم روانه ده، ښارونه لاهم کافران دي.

مـوږ لا هـم د ښـارونو پـه لوکسـو تالارونـو او فيشـني هوټلونـو کـې د سـولې او جګـړې پـه اړه تيوريـک بحثونـه کـوو. ښـاري لوسـتي نفـوس يـو بـل تـه لـه غربـي تيوريسـنانو ځخـه نقـل قولونـه کـوي او د سـولې پـه اړه پـاور پوينټونـه او پرېزېنټېشـنونه ارايـه کيـږي... بيـا چکچکـې او د سـرتيفيکيتونو ويشـل او بيـا ډوډۍ او ورپسـې فيرينـې...

کليـوال نـه پوهيـږي، چـې مـوږ څـه وايـو؟ څه کـوو؟ زمـوږ په خبـرو کې سـوله او جګړه څـه مانا؟

پينځـه لسـيزې روسـته لا هم کلـي د جګـړې ايډيولوژيک بسـترونه دي او نـږدې ده چـې د هـر کليـوال کـور، جومـات او پټـی د کافرو ښـارونو پر ضـد پـه يوه سـنګر بدل شـي.

خـو مـوږ لګيـا يو د سـولې او جګـړې موډرنـې تيـورۍ د ډېرينـو ديوالونو شاته شـاربو...

د هـر هېـواد سـوله چې لـه هرځايـه راځي، شـوني ده. خو د افغانسـتان سـوله د کليـو او کليوالـو لـه بېخبرۍ سـره ګرو ده.

# د افغانستان زعفران؛ د اقتصادي پرمختگ په لور مهمه هڅه



◆ لیکنه: طاهر قادري
◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

په افغاني ټولنه او د افغانستان په اقتصاد کې د پام وړ بدلونونه رامنځته شوي دي. په ټولنیزو، کلتوري، سیاسي او د مخ پر ودې کورنیو او نړیوالو بازارونو سوداګریزو برخو کې د ځوانانو فعالې ونډې مثبت بدلونونه راوستي دي. که څه هم په هېواد کې بدلونونه تل د خبرونو سرټکي وو، خو د افغانستان ډېرې نورې مثبتې اقتصادي، ټولنیزې او امنیتي پېښې د نړیوالو رسنیو له لیده پټې پاتې دي. په داسې حال کې چې افغانستان تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره هڅې کوي، د پام وړ بدلونونه شته چې ددغه راز هڅو د پیاوړتیا لامل کېږي. څو ورځې مخکې د ذایقې یا خوند نړیوال انستیتوت د آتم پرلپسې کال لپاره د افغانستان زعفران ته لومړی مقام ورکړ. دا بریا ددې ارزښت لري چې په هېواد کې د زعفرانو د کښت اغېز او لرلید ته کتنه وکړو.

**د سوکالۍ په لور گام**

په ۲۰۲۰ کال کې کورونا ویروس د نړۍ اقتصاد سخت زیانمن کړ او د هېڅ هېواد اقتصاد ترې خوندي پاتې نه شو. له بلې خوا، نوی میلادي کال د کروندګرو لپاره په مثبت لرلید سره پیل شو. لومړی افغانستان د اتم پرلپسې کال لپاره د زعفرانو د ښه کیفیت د تولید په برخه کې لومړی ځای خوندي وساته، دوهم په لازیاتو ولایتونو کې د زعفرانو کرلو ته لیوالتیا پیدا شوې او په مقابل کې یې د کوکنارو بدنامه کښت کمېږي. د ۲۰۱۹ کال تر دسمبر پورې د هېواد له ۳۴ ولایتونو په ۲۳ ولایتونو کې چې له دې مخکې کروندګرو کوکنار یکې کرل، د زعفرانو کرلو ته یې مخه کړې ده. درېیم، افغانستان په نړیوالو صادراتو کې د بازار په ۱۲اعشاریه اته سلنې ونډې سره، له ایران او هند وروسته د زعفران په تولید کې درېیم ځای لري؛ یعنې افغانستان له دې ظرفیته برخمن دی چې د زعفرانو د صادراتو له لارې د میلیونونه ډالرو په ترلاسه کولو، په میلیونونه افغانان له بې وزلې وږغوري او اقتصادي ودې ته ورسېږي.

**د هیلې کړکۍ**

**په افغانستان کې د زعفران تولید چې د افغانستان د سرې طلا په نوم هم یادېږي، په تېرو څو کلونو کې څو برابره شوی دی. په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د ټولو نړیوالو صادراتو ارزښت ۲۱ اعشاریه ۲۵ میلیون ډالر او په ۲۰۱۹ کال کې ۲۸ اعشاریه ۹۴ میلیون ډالرو ته رسېده. له دې ډلې، په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې د ۱۵ او ۱۷ میلیون ډالرو په ارزښت زعفران هند ته صادر شوي دي.** زعفران چې د نړۍ له ګرانبیه درملو څخه دي، په هېواد کې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لامل کېدای شي. د یادولو وړ ده چې زعفران په هېواد کې د کوکنارو د تولید مستقیم او غیرمستقیم اغېز شنډولی او له دې لارې د کوکنارو له امله امنیتي ګواښونه لېږې کولی شي. په همدې دلیل زعفران په هېواد کې د کوکنارو پر ځای د بدیل کښت په توګه یادېږي. سربېره پر دې، د زعفرانو کرونده ډېرو کمو اوبو ته اړتیا لري. دا په افغانستان کې د زعفرانو د کښت یوه لویه ګټه ده؛ ځکه هېواد مو تل له وچکالۍ سره مخامخ وي. سربېره پر دې، دا چې د کرنیزو محصولاتو د لازیات تولید لپاره ډېرو ځمکو ته اړتیا ده، په مقابل کې، د زعفران د کروندې لپاره ډېرې ځمکې ته اړتیا نشته او دا چاره د دې لامل کېږي چې په هېواد کې په میلیونونه کروندګر د زعفرانو کښت ته مخه کړي. په همدې لامل، له ۲۰۱۸ تر ۲۰۲۲ پورې د افغانستان د صادراتو ملي تګلارې د زعفران پراختیا په لومړیتوب کې راوستې ده. ددې تګلارې د بشپړولو لپاره، د نړیوالې سوداګرۍ مرکز همداراز د افغانستان د صادراتو د پیاوړتیا لپاره د اروپايي ټولنې د پروګرام د یوې برخې په توګه، په افغانستان کې د خوړو د نوښت په برخه کې کار کوي. د زعفران ارزښت د افغان دولت په لوړو چارواکو کې په ښه توګه پېژندل شوی او د پراختیا پروګرام یې په جوړو شویو سیاستونو کې تر سترګو کېږي. د افغانستان د کرنې برخه به د زعفرانو د دودولو له ګټو په ښه توګه برخمنه شي.

**د زعفران ډیپلوماسي**

له ۲۰۰۱ میلادي کال راهیسې، دغه درملیز بوټي په ټوله نړۍ کې ډیپلوماتیکو تړونونو ته لاره موندلې ده. کله چې ما په هند کې د افغانستان سفارت د سرپرست په توګه کار پیل کړ، «د افغانستان له سفارت سره چای» په نوم مې یو نوښت پیل کړ؛ چې په دغه پروګرام کې به مې سوداګر، ژورنالیستان، اقتصادي کارپوهان او د افغانستان دوستان د زعفرانو چای لپاره سفارت ته رابلل چې د زعفران لپاره د تبلیغ ترڅنګ له دې فرصته په ګټې اخیستو د خپل هېواد د کلتوري، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو په هکله مالومات ورکړم.

د زعفرانو ډیپلوماسي د افغان ډیپلوماتانو له خوا د ډیپلوماټیک ځواک د ښودلو یوه بېلګه ده، چې له دې لارې د نوي افغانستان انځور نړیوالو ته وړاندې شي.

**راتلونکې لارې چارې**

له هغو ستونزو او ناخوالو لکه جګړو او طبیعي پېښو سره سره چې افغان کروندګر په تېرو څو لسیزو کې افغان کروندګر ورسره مخامخ دي، د زعفرانو د تولید صنعت هیله منوونکی دی. د زعفرانو کښت د سوکاله راتلونکې لپاره د هیلې کړکۍ کېدای شي؛ ځکه ددې بوټي په تولید سره په میلیونونه کروندګر پر ځان بسیا کېږي، اقتصاد به وده وکړي او د کلیوالو سیمو اوسېدونکو ته به چې د هېواد کابو ۷۴ سلنه وګړي جوړوي ډېره ګټه ورسېږي. ولسمشر غني ددغې ملي شتمنۍ له کښت او صادراتو د ملاتړ لپاره له نورو هېوادونو څخه د بې کیفیته زعفرانو واردات منعه کړي چې دا کار په ملي او نړیوالو بازارونو کې د زعفرانو د بیې د دوه برابره کېدو لامل شوی دی.

ولسمشر د زعفرانو له تولیده چې د افغانستان د بېلګې په توګه په نړیواله کچه د هېواد ښېره بدلولی شي هرکلی کړی دی.

په دې هیله چې د افغانستان سره طلا په لېږې او نږدې هېوادونو کې ښه بازار پیدا کړي او له دې لارې مو اقتصاد لا وده وکړي.

# د بهارک خونړۍ پېښه؛

# طالبانو څنګه ۴۸ سرتېري د نښه ویشتونکو په وسیله ووژل؟



◆ راپور: حسیب بهش
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

د تخار بهارک ولسوالۍ پېښې په دې ولسوالۍ کې د ۴۸ سرتېرو د وژلو په تړاو خپلې ارزونې، د ولسي جرګې عمومي ناستې ته وړاندې کړې.

**ددې پلاوي د موندنو پر اساس «د استخباراتي اطلاعاتو بابېزه ګڼل»، «د مدیریت کمزوري او وظیفوي غفلت»، «په موقع سره د مرستې نه رسېدل»، «د امنیتي او دفاعي ارګانونو ترمنځ نه همغږي او «د واحدې نظامي رهبرۍ نشتون» او «په نظامي او امنیتي چارو کې د سیمه ییزو زورواکو او مخورو مداخله» ددغې پېښې اصلي لاملونه ول.**

ددې پلاوي د غړو په وینا «د اردو ځواکونو، د بهارک پېښې په خونړۍ شپه، د طالبانو یوه قومندان په کور کې ځای پرځای شوي ؤ او حتی ددې برید په تړاو یې د طالبانو د چمتووالي په اړه خبر نه درلود. د موندنو په اساس، **ددې برید یو طراح هغه شخص ؤ چې د ملي امنیت له لوري زنداني خو وروسته د قومي مشرانو په مداخلې سره بېرته ازاد شوی ؤ.**

ددې پلاوي غړي وایي چې، امنیتي ځواکونو د ناسم پوهاوي له امله، په هغه شپه، ددفاع موکه نه وه موندلې او ځینې یې د خوب پرمهال، د شپې نښه ویشتونکي، په وسیله وژل شوي ؤ. پردې سربېره په هغه برید کې ډېری ټانکونه او موټرونه سوځول شوي ؤ او د طالبانو پر مورچلو د هوایي برید لپاره د امنیتي مسوولینو غوښتنه هم بېځوابه پاتې شوې وه. امنیتي چارواکو د ولسي جرګې حقیقت موندونکي پلاوي ته ویلي دي، که د تخار نظامي اړتیاوې تر پسرلي او د فصلي جګړو تر پیلېدو پورې حل نشي، نو دا ولایت به د طالبانو له لوري سقوط شي.

**د روان کال د تلې په دېرشمه، طالبانو د بهارک ولسوالۍ د پولیسو پر قطعو شپې لخوا یرغل وکړ او د پولیسو ۴۸ غړي یې ووژل.**

دغه پېښه په لومړیو کې په ټولنیزو رسنیو کې، د خلکو د غبرګونونو له څپو سره مخ شوه. د ولسي جرګې د کورني امنیت کمیسیون وروسته له دې پېښې نه د سید اشرف الدین عیني په مشرۍ یو پلاوی، چې عبدالرووف شپون، حمیدالدین یولداش، مهدي راسخ، امیرمحمد خاکسار او شاکر نذیري یې غړي ول، ددې پېښې د ارزونې په موخه وټاکه.

**د بهارک پېښه څنګه رامنځته شوه؟**

ددغه راپور په اساس، د ولسي جرګې استازو څو ځلې په تخار کې د ناامنۍ، په ځانګړې توګه د تالقان او بهارک ولسوالۍ شاوخوا ته د امنیتي وضعیت د خرابوالي په اړه خپلې اندېښنې شریکې کړې وې. بالاخره د تلې په میاشت کې امنیتي ځواکونو د هېواد لوی درستیز، محمد یاسین ضیا په مشرۍ د پاکولو عملیات، د تالقان ښار شاوخوا او بهارک ولسوالۍ اړوند سیمو کې پیل کړل. دغه ګام په هغه وخت کې واخیستل شو چې په همغه ورځو کې د تخار لپاره د پولیسو نوی قومندان او د امنیت نوی رییس معرفي شوي ؤ او په دوام یې نوي والي هم خپل کار پیل کړ.

د ولسي جرګې د راپور په اساس، که څه هم ددې عملیاتو په ترځ کې چې یوه اونۍ یې وخت ونیوه، د تالقان ښار شاوخوا سیمې له طالبانو پاکې شوې وې، خو امنیتي ځواکونه د بهارک ولسوالۍ د بشپړې پاکونې لپاره، د «بهارک سپین جومات» سیمه کې چې د طالبانو د تګ او راتګ لاره ده، ځای پرځای شول. په دغه وخت کې لوی درستیز کابل ته راوګرځېد او د عملیاتو ددوام مسوولیت قول اردو او د لوا قومندان ته وسپارل شو.

**د تلې میاشتې په دېرشمه، امنیتي ځواکونه د بهارک ولسوالۍ په سیمو کې ځای پرځای شول او د سبا ورځې د پاکسازۍ لپاره یې چمتووالی نیولی ؤ. هغوی د تېرو ورځو په ترځ ځینې کورونه پلټلي ؤ، خو ځینې کورونه د سیمه ییزو مشرانو په مداخلې سره نه و پلټل شوي. سربېره پردې، په هغه کور کې چې امنیتي ځواکونه ځای پرځای شوي ؤ، په حقیقت کې د طالبانو د یوه قومندان کور ؤ او ددغه قومندان د کورنۍ ځینې غړو هم په هغه کور کې حضور درلود.**

د شپې ۸ بجې شاوخوا د ملي امنیت چارواکو دې سیمه ته، د طالبانو د سرې قطعې د برید د احتمال په اړه خبر ورکړ او ددغې ډلې د جګړه مارو ددقیق شمېر او مېشتځای یې هم مشخص کړی ؤ. د ارزونو په اساس دغه معلومات د واټساپ د ګروپ له لارې د نظامي شورا غړو سره شریک شوي ؤ. که څه هم په هغه شورا کې د تخار د امنیت آمر، راز محمددوراندیش هم حضور درلود، خو بیا هم د ټیلیفون له لارې نوموړي ته اطلاع ورکړې وه او همممهاله یوځای، هوایي ځواکونو څخه د هوایي مرستې غوښتنه وشوه او د طالبانو د حضور د سیمې په اړه کوردینات هم ورکړل شوي ؤ.

په ورته وخت کې ولسي جرګې موندلې دي چې په سیمه کې مېشتې قطعې او په ځانګړې ډول د تخار امنیت امر دغه اطلاعات جدي نه دي نیولي او ددغو بریدونو ددفع کولو لپاره یې چمتووالی نه درلود؛ ځکه ټانکونه له هغه انګړه بهر چې امنیتي ځواکونه پکې مېشت شوي ؤ، درول شوي ؤ. سربېره پردې سرتېرو هم د ټانکونو شاوخوا ته د خوب لپاره ځایونه غوره کړي ؤ. د امنیت امر، د ځانګړو پولیسو د قطعې قومندان له ساتندویانو سره، د هغې انګړ د بالاخانې پر سر چې «مالک یې له طالبانو سره منظم تماس درلود»

ویده ؤ. دا په داسې حال کې چې امنیتي چارواکو، په ځانګړې توګه د تخار د امنیت امر، سربېره پردې چې د پېښې په سیمه کې یې دوه اونۍ تېرې کړې وې، د ټانکونو د منظمولو، د استحکاماتو رامنځته کولو، د خندوقونو کیندلو، ددفاعي تېرکشونو منظمولو، د حاکمو تپو او نږدې زیان منونکو سیمو د نیولو، د کومنډو قطعې (چې په ۴۵۰ مترۍ واټن کې یې موقعیت درلود) سره د اړیکې ټینګولو او همکارۍ او نورو هغه مواردو په شمول چې د هر ډول بریدد مهارولو لپاره اړین ؤ، نه ؤ نیولي. له دې اخوا، حتی د تخار د امنیت امر، راز محمددوراندیش د هغه شخص په انګړ کې چې له طالبانو سره یې نږدې اړیکه لرله، ویده شوی ؤ او خپله پوهېده چې ددې کورنۍ یو غړی د طالبانو د ډلې قومندان دی.

طالبانو، د شپې ۳:۳۰ بجې د امنیت ځواکونو پر مېشتځي، چې د «د بهارک سپین جومات» په سیمه کې ؤ، برید کوي؛ د ګولیو ویشتلو لړۍ پیلېږي. په لومړیو کې هغه درې سرتېري چې د پیرې مسوولیت یې درلود، ووژل شول. په دې ترڅ کې پنځه تنه هغه سرتېري چې له انګړ نه بهر، ټانکونو ته نږدې د خوب په بستر کې پراته ول، په نښه شول. پردې سربېره ډېری هغه سرتېري چې په هغه سیمه کې ؤ، پر سرونو یې ګولۍ ولګېدې او مړه شول. په دغه وخت کې د امنیت امر چې غوښتل یې خپل ټانک ته دننه شي، په خپله پښه کې ټپي شوی دی. په همغه شېبه کې د یو هاموې دوه ساتونکو نوموړی د کومنډو قطعې قرارګاه «چې ددې پېښې په ۴۵۰ متري واټن کې موقعیت درلود» ته ولېږدوه.

په دغه برید کې ۴۸ تنه امنیتي ځواکونه ووژل شول. د ولسي جرګې لخوا ټاکل شوي پلاوي وایي چې د کومنډو قطعې، په پېښه کې ښکېلو پولیسو سره هېڅ ډول مرسته نه ده کړې او حتی د هوا په روښانتیا سره روغتون ته د تخار امنیت امر، د لېږدولو لپاره هم ګام نه و اخیستل شوی.

په هغه برید کې د اته ټانکونو په شمول، ټول نظامي وسایل وسوځول شول او د پولیسو ځانګړو قطعو اړوند ۳۰ شپې لیدونکو وسلو په شمول نظامي تجهیزات د طالبانو لاس ته ولوېدل. له دې وسایلو نه د طالبانو ډلې یو ټانک هم له ځان سره ولېږدوه او یوازې یو ټانک چې د امنیت امر پکې لېږدول شوی ؤ، جوړ پاتې شوی دی. که څه هم نښتې یو ساعت دوام وکړ، خو امنیتي ځواکونو مقاومت نه دی کړی او مرستندویه ځواکونه هم د سهار ۶:۳۰ یا ۷:۰۰ بجې د پېښې سیمې ته ورسېدل. د مرستندویه ځواکونو په رسېدو سره، د پېښې له سیمې نه جسدونه ولېږدول او پاتې ځواکونو د بهارک سیمه پرېښوده. په دې توګه سیمه بیاځلې د طالبانو لاس ته وغورځېده. د هغې شپې په سبا باندې، په ټولنیزو رسنیو کې د ۸۰ سرتېرو د وژنې خبر خپور شو، خو بالاخره چارواکو دا ومنله چې له ۴۰ پورته سرتېري په دې برید کې وژل شوي دي.

**ستونزه چېرته وه؟**

د ولسي جرګې لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپلو ارزونو په راپور کې، په مشخص ډول د بهارک خونړۍ شپې په کمزوریو بحث کړی دی. له دغو مواردو څخه یو یې د استخباراتي اطلاعاتو بابېزه ګڼل دي؛ ځکه د ملي امنیت ریاست د پېښې د احتمال په اړه خبر ورکړی ؤ او پر دې کار سربېره یې حتی د طالبانو کره شمېر او ځای هم مشخص کړی ؤ. په ورته وخت کې، چارواکو او په ځانګړي ډول د تخار د امنیت امر، دغه خبرداری جدي نه دی نیولی چې بلاخره د نوموړي په ګډون د ۴۸ تنو د مړینې لامل شو. چارواکي همداراز وایي چې د تخار د امنیت امر او په سیمه کې مېشت ځواکونه له

برید نه خبر ؤ. د تخار د پولیسو قومندان، اکرام الدین سریع، د ولسي جرګې لخوا ټاکل شوي پلاوي ته ویلي دي چې د هماغې شپې په لومړیو کې، د طالبانو لایزري قطعې، د خواجه غار په مرکز کې، پر پولیسو برید کړی ؤ او امنیتي ځواکونو هغه برید شنډ او دفع کړ. په دې برید کې یوه بله کمزوري، «د مدیریت کمزوری او وظیفوي غفلت» ښودل شوی دی؛ ځکه د امنیت امر او په سیمه کې مېشت نور قومندانان- سره له دې چې د پېښې په سیمې کې یې دوه اونۍ تېرې کړې وې، لازم دفاعي تدابیر یې نه ؤ نیولي. له بل پلوه امنیتي چارواکو د هغه شخص په کور کې شپې ویده شوي ؤ چې د کورنۍ یو غړی یې، د طالبان ډلې لوړپوړی قومندان ؤ.

په دې توګه سره، **په راپور کې راغلي دي چې د لوا قومندان، امنیه قومندان او د ولایت نورو چارواکو د امنیتي ځواکونو ګډون نه دی ارزولی او د لازمو تدابیرو له نیولو ډاډمن شوي نه ؤ.** ویل کېږي چې د لوا قومندان له دې پېښې وروسته د کندز په خان اباد کې، په یوه بله پېښه کې وژل شوی دی.

د تخار امنیه قومندان چې تازه ګومارل شوی ؤ، د مجلس پلاوي ته ویلي دي، لکه څرنګه چې په تازګۍ سره ګومارل شوی ؤ او له سیمې سره یې بلدیت نه درلود، نو د امنیت امر راز محمددوراندیش او د نوموړي پر مرستیال یې باور وکړ؛ ځکه چې دوراندیش په تخار کې زېږېدلی ؤ او له سیمې سره یې بلدتیا لرله. په همدې ډول د پولیسو قومندان اړینه نه ده ګڼلې چې خپله له نږدې نه سیمه وارزوي.

**له بل پلوه د تخار والي، عبدالله قرلق هم پدې خبره، چې ګنې جګړه د لوی درستیز محمد یاسین ضیا له لوري رهبري کېدله- سره له دې چې هغه بېرته کابل ته ګرځېدلی، او ګنې داچې نورو لوړپوړي امنیتي چارواکو په سیمه کې حضور درلود، د وضعیت په اړه ادنېښمن شوی نه دی او سیمه یې ارزولې نه ده.** پردې سربېره ځینو سرچینو د مجلس لخوا ټاکل شوي پلاوي ته، په سیمه کې، د پلټنې او تلاشۍ د ترسره کېدو په اړه شکایت کړی دی؛ ځکه ځینې کورونه د سیمې مخورو په مداخلې سره تلاشي شوي نه ؤ او احتمال وه چې طالبان په هماغه کورونو کې ځای پرځای شوي ؤ. د ولسي جرګې پلاوي ارزونې همداراز ددې پېښې بله کمروزي «په وخت سره مرستې نه رسېدل» ګڼي. له بل پلوه د پېښې سیمه، د تالقان ښار په ۱۵ کیلومترۍ کې پرته او د لارې په اوږدو کې، د طالبانو د کمین خطر هم حس شوی دی.

په ورته وخت کې د تخار امنیه قومندان، د بېړنۍ مرستې د نه رسېدلو لامل «د زرې وسایلو، تجهیزاتو او ریزرفي پرسونل په شمول د امکاناتو نشتون» ګڼلی دی او ویلي یې دي چې «ټول درانه تجهیزات او غوره سرتېري، ځانګړې قطعې او د ۹۹۹ قطعه په سیمه کې ؤ او په مرکز کې د استولو لپاره کافي ځواک نه ؤ».

همدارنګه په هغه وخت کې د کومنډو قطعه، د پېښې د سیمې په ۴۵۰ کیلومترۍ کې وه، خو په جګړې کې یې را ایسارو سرتېرو سره یې د مرستې لپاره هېڅ نه دي کړي. د لوا سرپرست، د ولسي جرګې پلاوي ته ویلي دي چې په هغه وخت کې عبدالودود نجرابي د قول اردو قومندان او د لوا قومندان و، نو په همدې سبب کومه اطلاع یا معلومات نلري. په دې توګه ددې موضوع ځینې اړوندې پوښتنې، د پامیر قول اردو او د کومنډو قومندان ته راګرځي، خو د ټاکل شوي پلاوي په راپور کې ددې دوو قول اردو استدال او دلایل نه دي درج شوي. له بل پلوه هم هوایي ځواکونو د چارواکو

په غوښتنه، د طالبانو د سیمې نښه کولو ته پاملرنه نه ده کړې، په داسې حال کې چې د تخار امنیتي چارواکي د دښمن د برید له احتمال نه خبر ؤ او حتی د طالب جنګیالو د راټولېدنې د ځایونو کوردینات یې هم ورته استولي ؤ. دلته روښانه شوې، چې باید په دې اړه هوایي ځواکونو او د ملي دفاع وزارت چارواکو نه پوښتنه وشي. په داسې حال کې چې ددغو دوو ادارو نظریات په دې راپور کې نه دي راغلي. د بهارک په خونړۍ پېښه کې بله کمزوري، «د امنیتي او دفاعي ارګانونو ترمنځ نه همغږي او د واحدې نظامي رهبرۍ نشتون» ګڼل شوې ده. ددې راپور په اساس، د تخار د اردو لوا سرپرست ویلي دي چې د پولیسو پر تمځای د طالبانو پر برید سربېره، د کومنډو قطعې بانډې هم د طالبانو له لوري برید شوی ؤ او په همدې سبب ددغې قطعې ځواکونه، د خپلو ځانونو په دفاع کې بوخت شوي دي. دغه امنیتي مسوول دا چې په هغه وخت کې عبدالودود نجرابي حضور درلود او مستقیم مسوولیت ورګرځېده، خپله بېخبري ګرځندوي، خو ویلي یې دي چې **د «جواد» په نامه د کومنډو یو افسر، د طالبانو د مخابرې غږ اوري او سربېره پردې یې بیا هم د پولیسو قطعې ته خبر نه دی ورکړی. طالبانو هغه مهال ویلي و چې د کومنډو قطعه ویښه ده او چمتووالی لري. ددې ډلې قوماندانانو خپلو جنګیالیو ته امر کړی دی چې د پولیسو پر ځواکونو برید وکړي. دا په داسې حال کې چې اصلي برید ۱۵ دقیقې وروسته شوی دی.**

د ولسي جرګې پلاوي ویلي دي، دا چې دغه افسر د کندز دشت ارچې ولسوالۍ کې ؤ، نو د لیدلو زمینه ورسره نه ده برابره شوې. همدارنګه د عملیاتو د ترسره کېدو په پیلېدو سره هممهاله ددې ولایت د ملکي او نظامي چارواکو ادلون بدلون هم ددې پېښې د رامنځته کېدو یو لامل ګڼل شوی دی.

**د بهارک د پېښې یو طراح موده مخکې د تخار د مشرانو په وساطت له زندانه خوشې شوی دی**

**له بل پلوه د «مولوي عبدالکبیر» په نامه د طالبانو ډلې یو قوماندان چې په دغه پېښه کې یې کلیدي رول لره، موده وړاندې د تخار د ځینو مشرانو په منځګړیتوب د ملي امنیت له زندانه ازاد شوی دی. په راپور کې راغلي دي چې د طالبانو نظامي مسوول عبدالکبیر چې د بهارک پېښې یو له اصلي طراحانو څخه دی مخکې له دې چې طالبانو سره یوځای شي، د ملي امنیت له لوري په دې تور نیول شوی چې دې ډلې سره یې اړیکې لرلې او یو ځان وژونکی یې ساتلی ؤ.** د ملي امنیت ریاست ددغه شخص د ازادۍ د څرنګوالي په تړاو د پلاوي استعلام ته په ځواب کې ویلي دي، چې عبدالکبیر د تخار د ځینو مشرانو، مخورو او علماوو په منځګړیتوب چې لېست یې هم موجود دی، ازاد شوی او بیا کندز ته تللی دی، مولوي عبدالکبیر وروسته په رسمي توګه د طالبانو ډلې سره یوځای شوی دی.

له بل پلوه هم ویل شوي دي چې د تلاشۍ او کور په کور پلټنې په ترڅ کې د نظام دننه ځینې سیمه ییز مخور، د ځینو کورنو د پلټلو مخه نیولې ده. په راپور کې ویل شوي دي چې احتمال دی چې د طالبانو جنګیالي په همدې کورونو کې ځای پرځای شوي ؤ. همدارنګه د ولسي جرګې پلاوي ویلي دي چې د تخار د ځینو اوسېدونکو د څرګندونو او شکایتونو په اساس، سیمه ییز مشران د تخار امنیتي دستګاه د چارواکو او په ځانګړي ډول ددې ولایت د امنیت امر، راز محمددوراندیش په ګومارنه کې نفوذ او رول لري.

**د ولسي جرګې پلاوي موندنې ښیي چې ځینې سرتېري مخکې له دې چې له خوبه پاڅېږي، وژل شوي ؤ. په دې توګه ځینې شایعات لکه «نامعلوم مسمومیت، خوب راوړونکي درمل...» خپاره شوي دي، ځکه سرتېري په «غیر معمولي خوب» ویده شوي ؤ.**

**همدارنګه به دې راپور کې راغلي چې ډېری سرتېري د سر له اړخه ګولۍ خوړلې او دا موضوع څرګندوي چې دا سرتېري له نږدې واټن نه د شپې دوربین په وسیله په نښه شوي دي.** په دې راپور کې راغلي دي چې د تخار د امنیت امر د پښو له اړخه ټپي شوی ؤ او همدارنګه پر ګردې یې هم یوه ګولۍ لږېدلې وه. نوموړي وروسته له ډېرې وینې توییدنې او روغتون ته په لېږدولو کې د ځنډ له امله، د کومنډو په تمځای کې، خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

**د اندېښنې وړ وضعیت؛ که مرسته ونه رسېږي، تخار به سقوط وکړي**

د ولسي جرګې له لوري د ټاکل شوي پلاوي په راپور کې راغلي دي چې د تالقان ښار او بهارک ولسوالۍ شاوخوا ځینې سیمو کې **د «ولسي پاڅونو کوونکو» په نامه ځینې غیر مسوول وسله وال حضور لري چې یو زر او ۲۰۰ تنه یې ثبت شوي دي او امکانات ترلاسه کوي. په ورته وخت کې دې پلاوي موندلي دي چې له دې ډلې ډېری کسان یې خیالي کسان دي او امکانات یې د زورواکو لخوا حیف او میل کېږي.**

ددغه راپور په اساس تمه ده چې په دې ولایت کې د پولیسو له شمېر نه ۲۸۰ تنه کم شي. پردې سربېره ویل شوي دي چې دغه کمښت د اردو په برخه کې هم احساس کېږي. د ولسي جرګې پلاوي ته امنیتي چارواکو ویلي دي چې یوازې درې ټولیه ماورای کوکچه کې فعال دي او پرسونل یې لا هم بشپړ نه دی. د راپور په اساس، له دغو ټولیو نه په یوه کې یې ۳۷ کسه او په بل کې ۴۰ نفره پرسونل حضور لري.

**د حقیقت موندونکي پلاوي لاربښووني/سفارش: شته خلاوې دې ډکې شي**

د ولسي جرګې ټاکل شوي پلاوي د خپل راپور په وروستۍ برخه کې ویلي دي چې د ملي امنیت په شمول، د امنیتي بنسټونو مشران باید د تخار د بهارک پې پېښه په تخصصي توګه وڅېړي او هغو کسان چې په سیمه کې یې وظیفوي غفلت کړی دی عدلي او قضایي بنسټونو ته دې وروپېژني . یاد پلاوي په دې راپور کې د ملي امنیت له ریاسته غوښتې دي چې په تخار کې دې د خیزش مردمي د شمېر د اړتیا او ټاکلو په برخو کې له سره غور وکړي. همدارنګه له ملي امنیت ریاست نه غوښتنه شوې چې په دغو لیکو کې پړه او خطا کاره کسان دې پیدا او د قانون منګلولو ته دې وسپاري. په دې راپور کې **وړاندیز شوی چې په نظامي برخو کې د اشخاصو ګومارنه دې د وړتیا او تجربې په اساس وشي او د هغو کسانو مخه دې ونیسي چې د سیمه ییزو مخورو په ملاتړ په کلیدي پوستونو کې ګمارل کېږي. د ولسي جرګې پلاوي همداراز وړاندیز کړی چې په دې ولایت کې دې د بېړنیو حالاتو د کنټرول لپاره ریزرف قطعه رامنځته کړي او همداراز یو کاري تجربه لرونکی جنرال دې ددې ولایت د امنیه قوماندانۍ لپاره وګوماري.**

د تخار د بهارک پېښه له جدي غبرګونونو سره مخ شوه. له دې پېښې وروسته پر طالبانو د دوحې تړونلیک د نقض له امله نیوکې ډېرې شوې، خو دغې ډلې وویل چې د بهارک برید، د امنیتي ځواکونو ددوه اونیزو عملیاتو په ځواب کې، ترسره شوی دی!



# د کندهار - ارزگان

## لویه لاره او د خلکو ستونزې

♦ د ۸صبح پښتو مجله
♦ احمدشاه شاداب

د کندهار ارزگان لویه لاره له کلونو راهیسې خرابه ده او حکومت یې د رغولو لپاره هېڅ نه دي کړي. پر دغه لاره مسافر وایي چې ډېر ځله یې ناروغانو د لارې په اوږدو کې ژوند له لاسه ورکړی او د لارې په اوږدو کې له گڼو ستونزو سره مخامخ کېږي.

د ارزگان یو شمېر اوسېدونکي وایي، داسې ښکاري چې دولت ارزگان ولایت د افغانستان له جغرافیې ایستلی ځکه ددې ولایت د سړکونو ترځنگ په دولتي خدماتو کې گڼې ستونزې موجودې دي.

دوی وایي چې له تېرو درېیو کلونو راهیسې د دې لارې یوه برخه حکومت او بله برخه یې طالبانو د مسافرو پر مخ تړلې وه.

د دغه ولایت اوسېدونکي وایي چې ددې لارې د تړل کېدو له امله له گڼو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي ځکه له یوې خوا خرابه لاره او له بله پلوه د لارې په اوږدو کې له سوداگرو پیسې اخیستل کېږي.

دوی وایي: که د ارزگان لویه لاره خلاصه شي ښایي د دغه ولایت د اوسېدونکو زیاتي ستونزې اوارې شي او خلک په ډاډه زړه کندهار ولایت ته د خپلو اړتیاوو د برابرولو لپاره سفر وکړي.

د ارزگان والي محمد عمر شېرزاد بیا وایي، هڅې رواني دي چې د ارزگان ولایت لارې خوندي کړي چې خلک وکولی شي په ډاډمنه توگه د ارزگان – کندهار پر لاره تگ راتگ وکړي.

د ارزگان والي زیاتوي له مرکزي حکومت سره یې د لارې د امنیت د خوندیتوب لپاره یو پلان جوړ کړی چې ډېر زر به عملي شي.

د ارزگان - کندهار ترمنځ څو لارې دي چې یوه یې څو کاله مخکې د طالبانو د فعالیت له امله وتړل شوه او ځایي اداري په غرونو کې یوه نوې لاره جوړه کړه چې ډېره خرابه وه.

خو اوس دغه دواړې لارې په بشپړه توگه ویجاړې شوې او د طالبانو په واک کې دي چې له امله یې خلک له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي.



# د کونړ په ولایتي روغتون کې د هیمو دیالیز- بډوډو د درملنې مرکز پرانیستل

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ حفیظ الله علي خېل

مسوولین وایي دغه مرکز د عامې روغتیا وزارت په مالي لګښت جوړ شوی چې د بډوډو ناروغانو وړیا درملنه کوي.
د عامې ورغتیا وزارت د معالجوي طب عمومي رئیس محب الله ځیر وویل: «دغه روغتیایي مرکز د عامې روغتیا وزارت په مالي مرسته د (۷،٦) میلیونه افغانیو په لګښت د لومړي ځل لپاره په کونړ کې جوړ شوی چې نور به دغه ناروغان دې ته اړ نه وي چې نورو ولایتونو او یا بهرنیو هېوادونو ته ولاړ شي.»

نوموړي زیاته کړه، په دې مرکز کې د فارمسی، اې سي جي، التراساونډ، اوبو د تصفیې او پیاوړي کولو ځانګې په عصري وسایلو سمبال شوې او ترڅنګ یې د روغتیایي کارکوونکو روزنې ته هم جدي پاملرنه شوې ده.
د کونړ د والي محمد اقبال سعید په وینا دغه مرکز کې به په وړیا توګه هېوادوالو ته خدمات وړاندې کوي او هېوادوال به نور دې ته نه اړ نه وي چې د بډوډو د درملنې لپاره ډېرې پیسې ولګي.
هغه وایي چې په ولایتي روغتون کې د سترګو، غوږ، پزې او ستوني تخصصي ځانګو په فعالېدو سره خلکو ته یو لړ آسانتیاوې رامنځته شوې او د روغتون د نویو ودانیو په جوړېدو سره به په نورو بېلابېلو برخو کې هم آسانتیاوې برابرې شي.
ځایي خلک په ولایتي روغتون کې د بډوډو د درملنې مرکز فعالېدل د کونړ د اوسېدونکو لپاره ښه زیری بولي او له روغتیا وزارته په نورو روغتیایي برخو کې د اسانتیاوو د برابرولو غوښتونکي دي.



# افغان کرېکټ ملي لوبډلې د اتلولۍ جام خپل کړ



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: محمد عزیز پردېس

افغان کرېکټ ملي لوبډلې د ایرلینډ د کرېکټ د ملي لوبډلې په وړاندې سیالیو په لومړۍ لوبه کې د سیالۍ لوبډلې لپاره ۲۹۷ منډې هدف وټاکه خو ایرلینډ لوبډلې دا هدف پوره نه کړ او افغان لوبډلې لوبه وګټله، په دوهمه لوبه کې ایرلینډ لوبډلې په ۷ ویکټو سره خپله ماته ومنله او افغان کرېکټ لوبډلې د سلواغې په اوومه نېټه په خپله دریېمه لوبه کې د ۳۶ منډو په توپیر سره ایرلینډ لوبډلې ته ماته ورکړه چې افغان لوبډله په دغو دریو یوه ورځنیو لوبو کې بریا ته ورسېده.

په وروستۍ لوبه کې راشد خان د غوره توپ وهنې او ډېرو ویکټو په اخیستو سره د لوبې لوری بدل کړ. په دغو دریو سیالیو کې د افغانستان له اړخه راشد خان، نوین الحق، رحمان الله ګربز، حشمت الله شهیدي او رحمت شاه زرمتي د نورو لوبغاړو په پرتله ښه وځلېدل او د ایرلینډ لخوا پاول سټارلینګ ترټولو ښه توپ وهنه وکړه. له دغو پرلپسې بریاوو وروسته د کرېکټ ډېری مینه وال د افغان لوبډلې له خوا د ښې لوبې له امله خوښي څرګندوي او هیله لري چې په راتلونکو لوبو کې هم همداسې وځلېږي.

د یادولو وړ ده چې د کورونا ویروس له خپرېدو او یو لړ محدودیتونو وروسته دا د افغانستان کرېکټ ملي لوبډلې لومړۍ لوبې وې چې ترسره شوې. د کرېکټ لوبو څارونکي او نوموتي خبریال، جعفر هاند په خپل ټوېټر لیکي: «له ایرلینډ څخه د دریېمې لوبې ګټل دې ټول افغان اولس ته مبارک وي، افغانستان له ایرلینډ څخه ټول ۳۰ امتیازونه واخیستل او په دې سره مو ۲۰۲۳ نړیوال جام ته د ورتګ سفر ښکلی پیل کړ.»

افغان کرېکټ ملي لوبډلې په سوپر لیګ پړاو کې ۳۰ امتیازونه ترلاسه کړل او همدا شان به د ۲۰۲۳ کال په نړیوال جام کې د ګډون لپاره له ګڼ شمېر نورو هېوادونو سره هم لوبې وکړي.

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.















# درې لوبې، درې برې:

افغانستان کرکټ ملي لوبډلې، له کرونایي محدودیتونو وروسته، خپلې لومړۍ نړیوالې سیالۍ کې، ایرلنډ لوبډلې ته درېواړه لوبې وګټلې. اوس نو افغان ملي لوبډله، مخامخ د ۲۰۲۳ زېږدیز کال نړیوالو سیالیو ته وروته.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative | Today's Mirror | Tomorrow's Hope



عکس له ټولنیزو شبکو کاپي شوی دی.

دې ابۍ نه که وپوښتې:
غوښه، څو ډوله ده؟
ښايي ووايي: څه شی!؟
هو، راياده شوه؛ ها چې د اختر، په قربانۍ
کې مو خوړلې وه!!!